مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۴/۲۷

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۲۸۳مه برخه

د سپینې خولې ستر یې مات شو
د ژاولو ټس یې هلکانو واوریدنه

جانانه ستـا د بري غږ شو
ناسته ولاړه کې مې زړه وهي ټوپونه

پر ما به کړی مېړهٔ پرېږدي
بیا به دې مات کړي د مېړاني ټول لوزونه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا نوې لنډۍ غوره شوې دي:

د سپینې خولې ستر یې مات شو
د ژاولو ټس یې هلکانو واوریدنه

زما دې زړه له ځانه تور کړ
تا چې کول داسې بد رنګ بد رنګ خویونه

چې هوړه نه خوري، بوی تري نه ځي
یاري دې کړې، خود به اوري تهمتونه

کله ګیله لرم چې لاړې
ما د ازل کرښې پخوا لوستلې دینه

زما دې غاښ په امبور وزي
که به مې ستا شوندو ته زور ورکړیوینه

ځوانانو لرې ځان ترې ساتئ
له تخنیکي مینې نه بوی د ګیریس ځینه

پته دې هېڅ نه لګېدله
پرون راهیسې دې ګوګل کې لټومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**چې تا راوړي، ماخوړلي**
**د یاراني حساب دووس سړی کوینه**

**جانانه ستـا د بري غړ شو**
**ناسته ولاړه کې مې زړه وهي ټوپونه**

**یو وطني اتڼ به وکړو**
**د خواروخلکو ښادی کله، کله وینه**

**څنې دې غوړی که ګډېږه**
**زموږ خوارانو ښادي کله، کله وینه**

**بیا دې لۀ سره مبارک وي**
**داسې بریا خو د خوښۍ ارزښت لرینه**

**د چا په عشق کې سودایی شو**
**لکه قصاب پر لاره ځي، ګوتې شمېرینه**

**تاوان د دواړو برابر دی**
**ما ته بایللې یې، تا زه بایللي یمه**

**بیا چې راځم ژوند به مې تېر وي**
**څوک به مې هېر وي، چا به زه هېره کړی یمه**

**پر ما به کړی مېړۀ پرېـږدې**
**بیا به دې مات کړي د مېـړاني ټول لوزونه**

**سبا ته بیا بازار ته لاړ شه**
**د لونګین څوندي دې کم راوړي دینه**

**زه په هماغې کوڅو راغلم**
**مینې یې شته دي، ځوانان ورک له ملکه دینه**

**بیا به د ګلو ښار ته نه ځم**
**په خندا لاړ شم، په ژړا بېرته راځمه**

**مرګی په ګوتو توولول کړي**
**واخلي هغه چې د زړه خوني ورانوینه**

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ